# یونیسف افغانستان

**د بشري وضعیت راپور**

**د 2023 کال د سپټمبر میاشتې له لومړۍ تر 30مې نېټې**

## مهم ټکي

- د 2023 په سپټمبر میاشت کې، له شپږو میلیونو څخه ډېرو خلکو د یونیسف په ملاتړو روغتیايي مرکزونو کې د روغتیا او تغذيې اړین خدمات ترلاسه کړل. د دغو کسانو نیمايي یې تر پنځه کلنۍ ټیټ عمره ماشومان وو.
- 246,792 ماشومانو او پالونکو ته (43 سلنه نجونې او مېرمنې دي) چې له دې ډلې 1,134 معلولیت لرونکو ماشومانو ته د ماشومانو د خوندیتوب د مخنیوي، د خطر کمولو او غبرګون خدمات رسېدلي.
- یونیسف په زابل ولایت کې د نغدي مرستو د وېش دوهم پړاو پیل کړ چې په څلورو ولسوالیو کې 13,754 کورنیو ته دا مرستې ورسېدې.
- یونیسف د بېلابېلو پلي کوونکو همکارو ادارو په واسطه په 16 ولایتونو کې 288,555  کسانو ته د څاګانو د کیندلو، د لمریزې برېښنا په واسطه د اوبو رسولو د سیستمونو د بیا رغونې او نصبولو او د شدید نس ناستي لخوا په اغېزمنو ټولنو کې د اوبو د سیستمونو کلورینې کولو له لارې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې.
- د 2023 کال تر سپټمبر میاشتې پورې، په افغانستان کې د ماشومانو لپاره د یونیسف بشري غوښتنه یوازې 48 سلنه تمویل شوې.

## د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

افغانستان لا هم د نړۍ له سترو بشري ناورینونو سره مخ دی چې 29.2 میلیونه وګړي یې بشري مرستو ته اړ دي. لسیزو جګړو، د اقلیم سختو ټکانونو او سخت اقتصادي مخ پر ځوړتوب چې د لوړې کچې بېکارۍ، د نغدو پیسو کمښت او د خوراکي توکو د بیو د لوړوالي په مرسته مشخصېږي، چې  په میلیونونه خلک یې له بېوزلۍ سره مخ کړي دي. د ټول افغانستان د ارزونې لومړنۍ پایلې چې د 2023 کال د اګسټ او سپټمبر په میاشت کې شوې، په افغانستان کې یو ناځرګند وضعیت ښيي. په داسې حال کې چې بشري غبرګون د ناورین مخه نیولې ده خو وضعیت ښه شوی نه دی او د ځینو سکتورونو لکه د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي (WASH) برخه د خرابېدو پر لور لیدل کېږي. په ۲۰۲۳ کال کې وچکالي او اقتصادي ګډوډي د بشري اړتیاوو د لومړنیو لاملونو په توګه پاتې شوي دي.

د څو میاشتو د میاشتنیو پېښو له ډېرېدو وروسته، د ساري ناروغیو ښودونکې سیستم په سپټمبر میاشت کې د بدن د اوبو له کمښت سره د شدید نس ناستي د قضیو په شمېر کې کموالی ښيي. د روان کال له پیل راهیسې، له 333 ولسوالیو څخه 176,704 د شدید نس ناستي او د بدن د اوبو د کمښت د قضیو راپور ورکړل شوی، چې له دې ډلې څخه  100,571قضیې (57 سلنه) په ماشومانو او 87,900 قضیې (50 سلنه) په ښځو پورې اړوند وې[1].

د سپټمبر پر 26مه، د پاکستان د کورنیو چارو وزارت وویل چې د دغه هېواد حکومت د هغو بهرنیو وګړو (د افغانانو په ګډون) د ایستلو لپاره یو پلان جوړ کړی چې د پاکستان د حکومت د اعتبار وړ ویزې یا په دغه هېواد کې د استوګنې اسناد نه لري، لکه د کډوالۍ د اعتبار وړ سند یا هم په دغه هېواد کې د اوسېدو د ثبت کارت. دا پرېکړه به د نومبر میاشتې له لومړۍ نېټې وروسته نافذه شي. له دغه اعلان وروسته له پاکستان سره پر دوو مهمو پولو چمن او تورخم پوله د افغانانو تګ راتګ زیات شوی. د 2023 کال د سپټمبر له 16مې تر 30مې نېټې پورې ټولټال 20,156 افغانان په خپله خوښه د تورخم او چمن د پولو له لارې افغانستان ته د ننه شوي، په داسې حال کې چې د 2023 کال د سپټمبر د میاشتې تر 15مې پورې یوازې 3,808 تنه وو. پر دې سربېره، 306 کسان د اعتبار وړ اسنادو د نشتوالي له امله په زور بېرته راستانه کړل شوي دي. د 2023 کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې، د کډوالۍ نړیوال سازمان په دغو دوو پولو کې 84,000 راستانه شوي افغانان تشخیص کړي او په دې کې هغه کسان نه وو شامل چې په زور راستانه کړل شوي وو.[2]

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

په سپټمبر میاشت کې، یونیسف په ټولو 34 ولایتونو کې د 2,397 ثابتو روغتیايي مرکزونو له لارې د لومړنیو، منځنیو او درېیمې کچې روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو ملاتړ ته دوام ورکړ. چې له ډلې یې د ډېرو اغېزمنو اقداماتو د ترسراوي په موخه په نهو ولایتونو کې له ۶۶۶ روغتیايي مرکزونو ملاتړ کړی. په دغه ملاتړ کې تر زیرون وروسته د وینې د بهېدو مخنیوی او درملنه، د نوپو زیږېدلو ماشومانو له عفونت څخه مخنیوی او د زیږون پر کنټرول تمرکز شامل دی. په سپټمبر میاشت کې له شپږ میلیونو ډېرو وګړو په یادو روغتیايي مرکزونو کې اړین روغتیايي او تغذیوي خدمتونه تر لاسه کړي دي چې نیمايي یې له پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان وو. د یونیسف کارکوونکو او ساحوي څارونکو 732 روغتیايي مرکزونه د هغوی د فعالیت ارزولو په موخه وکتل. لوېه موندنه دا وه چې 98 سلنه دغو روغتیايي مرکزونو د میندو او ماشوم روغتیايي خدمتونه وړاندې کړي او 96 سلنه روغتیايي مرکزونو د تغذيې خدمتونه وړاندې کړي دي. په هرصورت، 48 سلنه روغتیايي مرکزونو برېښنا نه درلوده یا یې نیمګړې برېښنا درلوده چې دا کار ښايي په روغتونونو کې د هغو درملو او نورو توکو د ساتلو چاره اغېزمنه کړي د هوا مشخصې درجې یا یخچال ته  اړتیا لري. له دغو ننګونو او په افغانستان کې د ښځو د حقونو په اړه له مخ پر

---

[1] د روغتیا نړیوال سازمان – افغانستان د ساري ناروغیو د خپرېدو د وضعیت راپور، اپیډیمولوژیکي اونۍ #39-2023 (26-30 سپټمبر 2023)
[2] د افغان راستنېدونکو د جریان څارنه، 16- 30 سپټمبر 2023، د کډوالۍ نړیوال سازمان.

زیاتېدونکو محدودیتونو سره سره، یونیسف د 27,169 روغتیايي کارکونکو د تنخواوو ملاتړ ته دوام ورکوي[3]. پر دې سربېره، 21 ګرځنده روغتیايي او د تغذيي ټیمونو (23,877) خلکو ته په لیرې پرتو سیمو کې د معاینې او درملنې خدمتونه وړاندې کړل.

د یونیسف په تخنیکي ملاتړ سره د نوي زیږېدلو ماشومانود هراړخیزې پاملرنې پروګرام لپاره ملي عملیاتي پلان وروستی شو. د مور او ماشوم د روغتیا په اړه ټولټال 190,289 لارښودونه په 27 ولایتونو کې وویشل شول. د راپور ورکولو په میاشت کې، له 8,205 څخه ډېر ماشومان د شري (سرخکانو) پر وړاندې واکسین شوي، 111,771 ماشومانو ته د پېنټا والینټ 3 یا پنځه ګونی واکسین شوی او 264,189 کسان د کوویډ - 19 پر وړاندې واکسین شوي دي. په ټولیز ډول په ټول هېواد کې د درملو ساتلو 27 غیر فعال یخچالونه بیا رغول شوي ترڅو د واکسینونو مناسب ذخیره کول او لېږد تضمین کړي. د روغتیا د سکټور لپاره سترې ننګونې د پېچلي عملیاتي چاپېریال او د روغتیا برخې د بشري غبرګون د پروګرامونو لپاره د تمویل له محدودیتونو سره تړلې دي.

## تغذیه

یونیسف له پنځه کلنۍ څخه د ټیټو هغو کم عمره ماشومانو د درملنې لپاره له (3,200) څخه ډېرو د خدمتونو د وړاندې کولو له مرکزونو سره مرسته کوي چې له شدیدې خوارځواکۍ سره مخ دي. په سپټمبر میاشت کې، د ګرځنده او ثابتو روغتیايي مرکزونو له لارې له 1.1 میلیونو څخه ډېر ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ په موخه معاینه شوي. د راپور ورکولو په موده کې له 60,594 څخه ډېر ماشومان[4] (75 سلنه یې نجونې دي) د شدیدې خوارځواکۍ د درملنې په موخه په دغو مرکزونو کې منل شوي. په ټوله کې د کال د پیل راهیسې، له پنځو کلونو څخه کم عمره 547,388 ماشومان د شدید نس ناستي د درملنې لپاره منل شوي چې د یونیسف او کلسټر د کلنۍ موخې د 63 سلنې ښکارندويي کوي. په سپټمبر کې په سویلي زون کې 41 نويو روغتیايي مرکزونو ته د شدیدې خوارځواکۍ د درملنې خدمتونه پراخ شوي. د راپور ورکولو په میاشت کې، یونیسف له زیږون تر 23میاشتو عمر لرونکو شاوخوا 228,855 څخه د ډېرو ماشومانو پالونکو ته د مور، نوي زیږېدلي او ماشوم تغذيې په اړه مشورې ورکړل شوې دي.

د ویټامین اې د بشپړولو کمپاین په ټولو پنځو زونونو کې په بریالیتوب سره پیل شو. په سپټمبر میاشت کې، 1,116,167 له پنځه کلنۍ کم عمره ماشومانو په لویدیځ زون کې د ویټامین اې بشپړوونکي ترلاسه کړل[5]. یونیسیف په شمالي او لویدیځو سیمو کې د ټولنیزې تغذیوې بستې د پلي کولو، د تقویتي پوډر د وېش او د اوسپنې او فولیک اسید د اوونیزو بشپړوونکو د پروګرام په اړه له (3,476) څخه ډېر ټولنیز روغتیايي کارکوونکي او ټولنیز روغتیايي څارونکي روزلي. پردې سربېره، 344,473 تنکیو نجونو د ټولنې په کچه د کمپاینونو له لارې د اوسپنې او فولیک اسید بشپړوونکي ترلاسه کړل .

## زده کړې

د 2023 کال په سپټمبر میاشت کې، یونیسف په 34 ولایتونو کې له شاوخوا 683,091 ماشومانو (60سلنه نجونو) سره د 21,278 محلي ټولګیو له لارې زده کړو ته د لاسرسي په برخه کې مرسته وکړه. یونیسف د راپور ورکولو په میاشت کې (د سپټمبر په میاشت کې) د محلي ټولګیو د معلوماتو مدیریت سیستم کې 36 نوي ټولګي او له 1,065 څخه ډېر زده کوونکي راجستر کړل. پردې سربېره، یونیسف د (9,993) دولتي ښوونځیو له زده کوونکو سره د درسي او تدریسي (؟) موادو د وېش له لارې مرسته وکړه.

## د ماشوم ساتنه، په بېړنیو شرایطو کې د جنسیتي تاوتریخوالي پر وړاندې د غبرګون او مخنیوي معیارونه(GBViE) او له جنسي ځورونې او استثمار څخه مخنیوی (PSEA)

یونیسف د مدني ټولنې له پلي کوونکو همکارو ادارو سره کار ته دوام ورکوي ترڅو په ټول افغانستان کې د ماشومانو د خوندیتوب او د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي، د خطر کمولو او جګړه ځپلو ماشومانو ته د غبرګون خدمتونه وړاندې کړي. د راپور ورکولو په موده کې، له 246,792 څخه ډېرو ماشومانو او پالونکو (43 سلنه نجونو او مېرمنو) د 1,134 معلولو ماشومانو په ګډون د ماشومانو د خوندیتوب، د خطر کمولو او غبرګون په برخه کې خدمتونه ترلاسه کړل. له دې ډلې، 40,061 تنو[6] د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونو څخه ګټه اخیستې چې د ماشومانو لپاره د مناسبو ځایونو، روغتیايي مرکزونو، د لنډمهالو پالنو د مرکزونو او د ښوونځیو له لارې د پوهاوي پیغامونو ترلاسه کړل چې د ټولنیزو خبرو اترو له لارې وړاندې کېږي. پردې سربېره، 6,644 زیانمنو ماشومانو (2,057 نجونې او 4,587 هلکان) ته د قضیې د مدیریت خدمتونه رسېدلي، په دغو خدمتونو کې د 977 ماشومانو لپاره د کورنۍ تعقیب او د بې کسه ماشومانو بیا یوځای کول؛ له 314 ماشومانو سره مالي مرسته؛ د 206 ماشومانو لپاره حقوقي مرستې؛ د 66 ماشومانو لپاره د حرفوي مهارتونو روزنه، د 904 ماشومانو لپاره د زده کړې په خدمتونو کې ادغام او د 36 ماشومانو لپاره د معیشت ملاتړ خدمتونه شامل دي.

د چاودېدونکو توکو خطر د ماشومانو لپاره پام وړ خطر دی، چې د ماشومانو د زیاتې مرګ ژوبلې لامل کېږي. په سپټمبر میاشت کې لږترلږه 20 ماشومان د چاودېدونکو توکو له امله ټپیان شوي. د دغو خطرونو پر وړاندې د چمتووالي د یوې برخې په توګه، د راپور ورکولو په موده کې، یونیسف او همکارو ادارو یې 221,380 ماشومانو او د ټولنې غړو[7] ته د چاودېدونکو توکو د خطر په اړه د پوهاوي پیغامونو رسولي.

د جنسیتي تاوتریخوالي قضیو ته رسیده‌ګي د یونیسف د پروګرام یوه اساسي برخه ده، د جنسیتي تاوتریخوالي د خدمتونو پر وړاندې کولو د ښځینه مرستندویه کارکوونکو د بندیز او پر ښځو او نجونو د تګ راتګ د محدودیتونو له امله منفي اغېز کوي. له دغو ننګونو سره سره، د یونیسف پلي کوونکو همکارو ادارې د راپور ورکولو په موده کې د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي، د خطر کمولو او غبرګون خدمتونه 17,228 کسانو (7,141 نجونو، 7,314 هلکانو او 2,773 ښځو) ته رسولي.

---

[3] له دې ډلې (10,265) یې ښځینه روغتیايي کارکوونکو وې

[4] د سپټمبر میاشتې لپاره د نوم لیکنې شمېره د 2023 کال د اکتوبر تر 12مې نیټې پورې د نا بشپړ راپور ورکولو پراساس ده. تمه کېږي چې د راپور تر بشپړېدو پورې د ماشومانو شمېر لوړ شي.

[5] د ټولو پاتې زونونو د دفترونو معلومات به د راتلونکي راپور د دورې په جریان کې ورکړل شي.

[6] (11,632) نجونې، (21,226) هلکان، (2,045) ښځې او (5,158) نران.

[7] (70,391) نجونې، (106,583) هلکان، (23,888) ښځې او (20,518) نران.

## اوبه، روغتیا ساتنه او پاکوالی (WASH)

په سپټمبر میاشت کې، یونیسف د بېلابېلو پلي کوونکو همکارو ادارو له لارې، په 16 ولایتونو[8] کې 288,555 خلکو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې چې په دې کې د څاګانو کیندل، د لمریزې برېښنا په واسطه د اوبو رسولو د سیستمونو بیا رغونه او نصبول شامل وو. پردې سربېره، د شدید نس ناستې/کولرا لخوا په اغېزمنو ټولنو کې د اوبو د سیستمونو کلورینې کول شامل دي. په دغه میاشت کې په وچکالۍ او سېلاب ځپلو سیمو کې شاوخوا 187,469 کسانو ته د ټانکرونو له لارې پاکې اوبه برابرې شوې. همداراز 45,652 تنو په ښېرو ولایتونو[9] کې د ښځو او نرانو د جلا حفظ الصحې مرکزونو ته لاسرسی پیدا کړی. د دغو کسانو له ډلې څخه 43,218 کسانو ته په ښېرو ولایتونو کې د ټولنیز مشارکت له لارې او 2,434 کسانو ته په کونړ او هرات ولایتونو کې د ببړنۍ روغتیا ساتنې اسانتیاوې برابرې شوې دي. په تطبیق شویو فعالیتونو کې د نویو تشنابونو جوړول، د شته کورنیو تشنابونو ښه کول او د عامه تشنابونو بیا رغونه شامل وو. پردې سربېره په ارزګان، کندهار او زابل ولایتونو کې د پاکولو د کمپاینونو له لارې د ناروغیو د خپرېدو د خطر د کمولو په موخه 110,000 کسانو ته رسیده‌ګي وشوه.

یونیسف له خپلو پلي کوونکو همکارو ادارو سره په ګډه په 18 ولایتونو[10] کې 201,185 کسانو ته د حفظ الصحې د ترویج او پوهاوي غونډې جوړې کړې چې په دې کې په صابون سره د لاسونو پر مینځلو، شخصي حفظ الصحې، د کور په کچه د پاکو اوبو پر مدیریت، د حفظ الصحې د مرکزونو پر پاکولو او د نس ناستې یا اسهال د ناروغیو د لېږد پر لارو تمرکز درلود. پر دې سربېره، 191,166 خلکو د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي اړین توکي ترلاسه کړل چې په هغو د کورنۍ حفظ الصحې بستې، د اوبو د تصفیې مواد، سطلونه، او بوشکې شاملې وې.

یونیسف په ارزګان ولایت کې په یوه روغتیایي مرکز کې د اوبو رسولو، پاکوالي او د لاسونو مینځلو ځایونه بیا رغولي، چې د 18 روغتیایي کارکوونکو په ګډون شاوخوا 4,700کسان ترې ګټه اخلي. پردې سربېره، یونیسف د پکتیکا او نورستان ولایتونو په دریو ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي ځایونه بیارغولي. شاوخوا 1,660 د ښوونځي ماشومانو او ښوونکو ته دا خدمتونه رسېدلي چې په دې کې د لاس مینځلو د ځایونو نصبول، د نلونو نصبول او د روغتیا ساتنې مرکزونه جوړول او بیا رغونه شامل دي. د راپور ورکولو په موده کې، 6,379 خلکو ته په ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي لومړنۍ اسانتیاوې برابرې شوې. د کال له پیل راهیسې په ټولیز ډول 442,534 خلکو ته د ادارې له لارې دا خدمتونه رسېدلي دي.

## د ټولنې او سلوک بدلون او اغېزمنو شویو کسانو ته حساب ورکول

په سپټمبر میاشت کې، نږدې 2.3 میلیونه خلکو د ملي رسنیو د کمپاینونو او د همکارو ادارو، ټولنیزو کارکوونکو او ټولنیزو شبکو لخوا د معلوماتي او ښوونیزو موادو د وېشلو له لارې ژوند ژغورونکي مهم معلومات ترلاسه کړل. له 84,000 څخه ډېرو خلکو [11]د یونیسف د ملاتړو محلي ادارو له لارې په مخامخ ګډون سره د چلند د بدلون په اقداماتو کې ګډون وکړ. دا فعالیتونه د ټولنې د ښکېلتیا د یو شان ناستو له لارې ترسره شول چې د خوارځواکۍ پر مخنیوي، د واکسینولو پر ډېروالي، ذهني هوساینې، د شدید نس ناستې پر مخنیوي، د څښاک د اوبو پر خوندي انتقال او تصفیه کولو، په آزاده فضا کې له رفع حاجت څخه پر ډډه کولو او د شخصي او کورنۍ حفظ الصحې پر عملي کولو تمرکز درلود. په ټول افغانستان کې، د تعاون، قهرمانانو او نیا ګروپونو غړو[12] د خپلمنځي اړیکو د مهارتونو او په ځانګړې توګه د شدید نس ناستې د مخنیوي په اړه د ټولنیزو خبرو اترو په ناستو کې ګډون وکړ.

اغېزمنو شوو خلکو ته د حساب ورکولو د ژمنې د یوې برخې په توګه، 24,750 کسانو د سپټمبر په میاشت کې د ټولنې د بېلابېلو نظر غوښتنو د میکانیزمونو له لارې خپل نظرونه او شکایتونه شریک کړل. ټولنیز کارکوونکي، د ټولنې د مشارکت او نظر غوښتنې مرکزونه، ټولنیز جوړښتونه او همکارې ادارې د ټولنیزو نظر غوښتنو میکانیزمونه جوړوي. په سپټمبر میاشت کې، یونیسف 20,769 نظر غوښتنې او شکایتونه مستند کړي، چې 52 سلنه یې په نارینه وو، 48 سلنه په ښځو، 31.5 سلنه د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي په پروګرام پورې، 29.1 سلنه په روغتیا، 19.5 سلنه په پوهنه، 12.5 سلنه په تغذیې او 8 سلنه د هغو ماشومانو په خوندیتوب پورې اړه لري چې د نظر غوښتلو او د شکایتونو اورېدلو له 98 فعالو مرکزونو څخه راټول شوي. د یونیسف د پروګرامونو په اړه شکایتونه او نظر غوښتنې د یونیسف اړوندو پروګرامونو او کلسترونو ته د نورو اقداماتو او د نظر غوښتنې د کړۍ بندولو لپاره لېږل شوې.

## جنسیت او د تنکیو ځوانانو پرمختګ او ګډون

په سپټمبر میاشت کې، د 52 فعالو ښځو او نجونو د خوندي ځایونو له لارې نږدې 15,500 تنه (8,974 ښځو او 6,526 نجونو) د مور او ماشوم روغتیا، تغذیې، د حفظ الصحې د پوهاوي، ګوزڼ (پولیو) واکسین، رواني روغتیا او د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون خدمتونو په اړه اړین معلومات او خدمتونه ترلاسه کړل. پردې سربېره، 26,321 کسانو (4,959 نجونو، 7,898 ښځو، 4,926 هلکانو او 8,538 نرانو) په 12 ولایتونو[13] کې د ناوړه جنسیتي نورمونو، د جنسیتي تاوتریخوالي د موضوعاتو، روغتیا، د میاشتنۍ ناروغۍ د حفظ الصحې، تغذیې او په ټولیزه توګه د ښځو او نجونو د خوندیتوب په اړه مهم پیغامونه ترلاسه کړل. د روغتیا د ببړنۍ غبرګون په پروګرام کې د جنسیتي ادغام په اړه د لومړۍ کرښې 142 کارکوونکي وروزل شول. د نرانو او هلکانو 57 شبکو په دغو فعالیتونو کې ښکېلتیا ته دوام ورکړ ترڅو د پلارتوب، جنسیتي تاوتریخوالي او په ټیټ عمر کې د ودونو په اړه مهم بانفوذه کسان په مثبتو بحثونو کې ګډون وکړي. د راپور ورکولو په موده کې، د جنسیتي تاوتریخوالي نږدې 400 قضیې ثبت شوې او اغېزمنو خلکو ته د رواني ټولنیز ملاتړ او مشورې خدمتونه وړاندې شوي او د بدخشان، بلخ لغمان، نورستان، لغمان او پکتیکا ولایتونو ولایتي روغتیایي خدمتونو مرکزونو ته راجع شوي.

---

8 فارياب، بادغېس، بغلان، کندز، کندهار، هلمند، سرپل، بلخ، بامیان، بدخشان، پکتیا، پکتیکا، فراه، ننګرهار، جوزجان او خوست

9 کابل، نورستان، دایکندي، خوست، پروان او ننګرهار ولایتونه.

10 ننګرهار، زابل، کنړ، نورستان، پکتیکا، کابل، بامیان، جوزجان، سمنګان، میدان وردګ، دایکندي، پکتیا، کاپیسا، ارزګان، پنجشېر، غزني، لوګر او کندهار.

11 16 سلنه هلکان، 14 سلنه نجونې، 38 سلنه نران او 32 سلنه ښځې.

12 د ټولنیز چلند د بدلون په ملاتړ د ټولنې په مشرۍ شبکې او جوړښتونه.

13 بلخ، بدخشان، جوزجان، فارياب، سمنګان، سرپل، کندز، بغلان، تخار، لغمان، کنړ ا وکابل.

د راپور ورکولو په میاشت کې په بدخشان ولایت کې د 196 (121 نجونو او 75 ښځو) په ګډون سره د کوویډ -19، د نجونو د زده‌کړې، د ښځو د حقونو، جنسیتي تاوتریخوالي، د حفظ الصحې د مدیریت، د مور په شیدو د تغذیې، د راجع کولو لارې او د ښځو اړوندو نورو موضوعاتو په اړه د پوهاوي اوه ناستې وشوې. پردې سربېره، په بلخ، جوزجان، کونړ او لغمان ولایتونو کې د ښځو او نجونو په خوندي ځایونو کې د ښځو او نجونو د مهارتونو د ودې لپاره پنځه ډیجیټل مرکزونه جوړ شول.

### ټولنیز خوندیتوب او د بشري مرستو د نغدو پیسو لېږد

په سپټمبر میاشت کې، یونیسف د خپل منظم نغدي پروګرام د یوې برخې په توګه په زابل ولایت کې د نغدو پیسو د وېش دوهم پړاو پیل کړ، چې په څلورو ولسوالیو کې 13,754 کورنیو ته دا مرستې ورسېدې. د نغدو پیسو ورکړه هغه مالي خنډونه له منځه وړي چې کورنۍ ورسره مخ دي او د ماشومانو ډېرې اړتیاوې پوره کوي او لومړنیو خدمتونو ته یې لاسرسی تضمینوي. پردې سربېره، په سپټمبر میاشت کې، یونیسف د زده‌کړې لپاره د نغدي مرستې دوهم پړاو وړاندې کړ، چې د جوزجان ولایت په دریو ولسوالیو او د نورستان ولایت په څلورو ولسوالیو کې 39,936 کورنۍ ګټهترې اخلي. د دغه پروګرام موخه دا ده ترڅو له تنکیو نجونو سره مرسته وکړي چې په ښوونځیو کې نوم لیکنه وکړي او ښوونځیو لوستلو ته دوام ورکړي.

## د بشري مرستو رهبري، همغږي او ستراتیژي

بشري اړتیاوو او هغو ته د غبرګون د پلان جوړولو پروسې روانې دي. د 2024 کال لپاره د دغه پلان جوړولو د سناریوګانو او ستراتیژیکو موخو په اړه د هوکړې لپاره د یونیسف په مشرۍ د کلسترونو او د بشري چارو د همغږۍ د دفتر ترمنځ لومړنۍ ناستې وشوې. د ښوونې او روزنې کلستر له نړیوالو ادارو څخه ملي همکارو ادارو ته د ټولګیو د لېږد په اړه له همکارو ادارو سره کار کولو ته دوام ورکړ. په داسې حال کې چې یونیسف په دغه لېږد کې د پام وړ بریالیتوب لري، هغه ادارې چې یونیسف ملاتړ نه لري، له نړیوالو ادارو څخه ملي همکارو ادارو ته د زده‌کړې د فعالیتونو د سپارلو لپاره اضافي ملاتړ ته اړتیا لري. پردې سربېره، د سوېلي سیمې لپاره د ښوونې او روزنې محلي کلستر د 2023 کال د سپټمبر له 12مې څخه تر 14مې پورې د کلستر د همکارو اداوو لپاره د ماشومانو د خوندیتوب او د بېړنې چمتووالي د پلان په اړه 3 ورځنۍ روزنه ور کړه. د روزنې موخه دا وه چې د ماشومانو د خوندیتوب او ښوونې او روزنې تر منځ د سکتور د همکارۍ پیاوړتیا، د ماشومانو د پایلو د ښه والي، د زده کړې په پروګرامونو کې د ماشومانو د خوندیتوب خدمتونو یوځای کول او همکارو ادارو ته دا ور پېژندل چې په بېړنیو حالاتو کې تر ټولو اغېزمنو ماشومانو ته د ښوونې او روزنې خدمتونه په ښه همغږي چلند سره وړاندې کړي.

د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي کلستر په سوېلي، مرکزي او ختیځو سیمو کې د شدید نس ناستې د غبرګون اندازه کولو لپاره له همکارو ادارو سره کار کوي، چېرته چې د تایید شویو پېښو د لوړ شمېر راپور ورکړل شوی. په هرو دوو اونیو کې یو ځل جوړېدونکې ناستې او د روغتیا له کلستر څخه په وخت سره خبرتیا د ګړندۍ ارزونې، روغتیا ساتنې د سروې[14]، د اوبو د کلورینې کولو او د بستو د وېشلو لپاره بسیج ته اجازه ورکوي. دا کلستر د روغتیا ساتنې د ستراتیژۍ په اړه د همکارو ادارو د بیاکتنې د ناستو او مشورو ملاتړ هم وکړ. هغه ننګونې چې د دغه کلستر همکاران ورسره مخ دي د سوېلي سیمې په ډېرې ولایتونو کې د ټولنې په کچه د شدید نس ناستې د غبرګون لپاره د ښځینه کارمندانو نشتوالی دی.

د ماشوم د خوندیتوب د مسؤلیت ساحې په ملي کچه د 12 ازمایښتي کارکوونکو لپاره د ماشومانو د خوندیتوب د معلوماتو مدیریت د نوي سیسټم CPIMS+ Pimero ازمایښتي بڼې په اړه روزنه وړاندې کړه ترڅو د سیسټم محتویات باوري شي.

د تغذیې کلستر ، د کلستر د شاوخوا 60 غړو په ګډون د 2023 کال د بشري مرستو د پروګرام د بیاکتنې دوه ورځنۍ ورکشاپ جوړ کړ. د دغه ورکشاپ موخه د تغذیوي اقداماتو په برخه کې پرمختګ ارزول او د کال په لومړۍ برخه کې له زده شوو تجربو څخه په استفادې د تشخیص شوو خنډونو او تشو د حل لپاره حل‌لارې موندل و. د کتنې او پرمختګ لپاره کلیدي ساحې چې د شدیدې خوارځواکۍ د بستري درملنې او له طبي پېچلتیاوو سره سره د تغذیې د پایلو د ښه کولو او د کلستر ترمنځ د بشپړې بستې د وړاندې کولو لپاره مشخصې شوې دي.

[14] د روغتیا ساتنې سروې د عامه اوبو سیسټم بیاکتنه ده ترڅو د څښاک پاکو اوبو رسولو وړتیا ارزونه وکړي.